

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** ادبي لښتې/ خمچه های ادبی

**لیکوال:** ډاکتر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښتی ډیزان:** ډاکتر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت – سلواغه / کال ۱۴۰۵

**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتیٖ........................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................. ۲
لیکي پوهه:......................................................... ۳
لړلیک ............................................................. ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید).............................................. ٦
مننه په څو لنډو کرښنو کې.......................................... ۸
د یادښتونو له پاره:................................................... ۹
هَلُوع .............................................................. ۱۰
د حضرت محمد (ص) ۱۰۰ خویونه (عادتونه)............................ ۱٥
د څاه کیندونکی مرګ په څاه کې وي.................................. ۲۳
کاریز ............................................................. ۳۳
دوې ورونه ......................................................... ۳٦
اصلیت پیژندنه ..................................................... ٤۲
ښوونکی او زده کونکي............................................... ٤۷
آفت (اپت) او فتنه.................................................... ٤۹
انگریز.............................................................. ٥۰
د سلطان محمود غزنوی د وخت کیسه................................. ٥۳
د بلخ په پاچاهی کې ................................................. ٥۸
ترجمه مطالب........................................................ ٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



هَلُوع ........................................................................ ٦٣
١٠٠عادت حضرت محمد (ص) ....................................... ٦٧
چاه کن در چاه است ............................................... ٧٦
كاريز ........................................................................ ٨٦
دو برادر...................................................................... ٨٩
اصليت شناسى ........................................................... ٩٥
معلم و شاگردان ...................................................... ١٠٠
آفت(مصيبت) و فتنه.............................................. ١٠٢
انگليس..................................................................... ١٠٣
داستان زمان سلطان محمود غزنوى ......................... ١٠٦
در پادشاهى بلخ ..................................................... ١١١
د چاپ شويو كتابونو لېست.................................... ١١٥
د كار لاندې كتابونو لېست ..................................... ١١٩
د امكان او وخت په صورت كې................................ ١٢٠
د پخښتئ ښت ........................................................ ١٢١

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِیمِ، اَلْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّی اللّهُ عَلَی مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل څو ادبي داستانونه چې د پند (نصیحت) نه ډک دي او د ځوان نسل له پاره غوره درروسونه دي، خپلو کتابونو مینه والو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه په څو لنډو کرښو کې

د یادونې وړ ده چې ښاغلی الحاج مولوي صیب (صاحب) عبدالرؤف خدام هېواد یوه له سترو، مشهورو دیني علماوو څخه دی.

هغه تل زیار باسي چې په پسته او خوږه ژبه، د قرآنکریم آیتونو، احادیثو، د حضرت محمد (صل الله علیه وسلم) کړنو، ګټورو حکایتونو او مثالونو پر بنسټ د ټاټوبي مامورینو، کارکونکو، ملګرو، دوستانو ته لاربښوونې او هغوی له ناروا، بدو کړونو، رفتارنو څخه منع کوي، هغوی د دې لارې ټول اصلاح او جنت ته، دعوتوي.

ما هم د هغه څو بیان شوي (نقل شوي) قرآنکریم ایتونه، د حضرت محمد (صل الله علیه وسلم) کړنې، ګټور حکایتونه په لنډه توګه بیان او په خپله ژبه د «ادبي لښتې / خمچه های ادبی» تر عنوان لاندې ټولې کړې، په پښتو او دري ژبوو مې لیکلي تر څو لوستونکو ته د عبرت سبق شي او هغوی د بدو کړونو لاس پر سر، ټولنه د اصلاح پر مخ او جنت ته تګ، دعوت وکړي.

د خدای تعالی نه، ذکر شوي (یاد شوي) الحاج مولوي صیب ته روغ صحت او اوږد ژوند غواړم.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هَلُوع

## د معارج سوره ــ ۱۹ آیت

**سوره:** معارج ۷۰
**جزء:** ۲۹
**نزول:** مکه مکرمه

**إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا (۱۹)**

**ژباړه:**
انسان یوه لالچی (بې صبره) مخلوق دی.

**د آیت د کلمو مانا (معنی):**

**هلوع:** ډیر لالچی، ډیر څورونکی.

**طبرسي و ویل:**
«**الهلوع:** الشدید الحرص الشدید الجزع»
**هلع:** جزع و شدة الحرص.

**۱۹/۲۰/۲۱/۲۲ او ۲۳ آیات:**

إِنَّ الْإِنْسانَ خُلِقَ هَلُوعاً «۱۹» إِذا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعاً «۲۰» وَ إِذا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعاً «۲۱» إِلَّا الْمُصَلِّينَ «۲۲» الَّذِينَ هُمْ عَلى صَلاتِهِمْ دائِمُونَ «۲۳»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:**

انسان بې صبره او لالچی پیدا شوی دی. هرکله چې ورته بده پېښه راشي، هغه ژاړي. او کله چې هغه ته خیر راشي بیا، بخل کوي، پرته له عبادت کوونکو.

هغه کسان چې په خپلو دعاګانو کې تل پاتې دي.

**مهم ټکي:**

«هلوع» دا د بې صبره او لالچي کس مانا (معنی) لري.

**پوښتنه:**

په ځینو آیتونو کې الله (ج) د انسان پیدایښت غوره بللی دی:

«خَلَقْنَا الْإِنسانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» «۱»

او ځان یې تر ټولو غوره خالق ګڼلی:

«أَحْسَنُ الْخالِقِينَ» «۲»*

خو په دې آیتونو کې راغلي دي چې انسان حریص او بخیل پیدا شوی دی. دا دواړه څنګه یو له بل سره یوځای کېدی شي؟

**ځواب:**

د انسان په پیدایښت کې مخالف شیان ځای پر ځای شوي او همدا د تکامل راز دی. نفس انسان بدی ته رسوي:

«إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ» «۳»

خو عقل انسان له دې څخه منع کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوى» «٤»

او د انسان وده د دې تضادونو په غوره کولو کې ده، کوم چې د انسان تعلیم او کښت ته لار هواروي.
د روایاتو له مخې غوره عمل دوام لري. «٥»
«الَّذِينَ هُمْ عَلى صَلاتِهِمْ دائِمُونَ»

.«١» تین، ٤.
.«٢» مؤمنون، ١٤.
.«٣» یوسف، ٥٣.
.«٤» نازعات، ٤٠.
.«٥» تفسیر نورالثقلین.
جلد ١٠ - صفحه ٢١٦

**د حرص په اړه ډېر روایات شته، چې ځینې یې یادوو:**

- «الحرص لا یزید فی الرزق» حرص رزق، نه زیاتوي.
- «من کثر حرصه ... ذل قدره » څوک چې زیات لالچي ( حریص) وي هغه به ذلیل وي.
- «رب حریص قتله حرصه» شاید هغه لالچی (حریص) سړی وي چې لالچ (حرص) به هغه و وژني.
- «لیس لحریص غناء» لالچي (حریص) هیڅکله بې نیازه، نه کیږي.
- «الحرص یرزی بالمروة» لالچي (حریص) خپل فضیلت او سړیتوب له لاسه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



....................................

- «الحرص مطية التعب» لالچ (حرص) د مصیبت سرچینه ده.
- «لا حياء لحريص» لالچی (حریص) د مال د لاسته راوړلو له پاره عفت او حیا پرېږدی.
- «الحريص الاسير» لالچی (حریص) یوه اسیر دی.
- «الحرص علامة الفقر» لالچ (حرص) د فقر نښه ده.
- «الحرص يفسد الايقان» لالچ (حرص) د الهی تقدیر یقین خرابوي.
- «الحرص موقع فى كثير العيوب» لالچ (حرص) انسان په ډېرو عیبونو کې اچوي.
- «لا يلقى الحريص مستريحا» لالچی (حریص) سړی آرام نه لری.

**پیغامونه:**

۱. د لالچي (حريص) دوې نښې دي:

جَزَع د ستونزو، سختۍ او بُخل د لاس ته راوړني یا کامیابی په پیر(وخت) کې.

«هَلُوعاً إِذا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعاً وَ إِذا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعاً»

۲. د ډیرو ناخوالو ریښه لالچ (حرص) ده.

جَزُوعاً ... مَنُوعاً

۳. انسان ډېر لږ حوصله لري، د لاسه ورکولو په وخت کې چيغې وهي او د لاس ته راوړو پر مهال بخل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَسَّهُ ... مَسَّهُ

**۴.** له بد سلوک څخه د خلاصون لاره د لمانځه ادامه ده.

خُلِقَ هَلُوعاً ... إِلَّا الْمُصَلِّينَ

**۵.** د انسان مادي فطرت د حرص په لور روان دی، دعا او د خدای (ج) ذکر يې منع کوي.

إِنَّ الْإِنْسانَ خُلِقَ هَلُوعاً ... إِلَّا الْمُصَلِّينَ

.«۱» غررالحکم.

ټوک ۱۰ – چوپړې ۲۱۷

**۶.** انسان له لمانځه نه پرته اندېښمن دی.

جَزُوعاً ... مَنُوعاً ... إِلَّا الْمُصَلِّينَ

**۷.** د دعا اغېزې په استقامت پورې اړه لري.

«الَّذِينَ هُمْ عَلى صَلاتِهِمْ دائِمُونَ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت محمد (ص) ۱۰۰ خوېونه (عادتونه)

۱ . پر لارې باندې یې، په ارامۍ او عزت، تګ کاوه.
۲ . د تګ په وخت کې یې، ګامونه پر ځمکه، نه ښوېول(کښول).
۳ . نظر یې کښته اچاوه او ځمکې ته یې کتل.
۴ . هر کس (څوک) چې به یې لیده، سلام به یې وراچاوه او هېڅ د ده تر مخه، سلام نه دی ور اچولی.
۵ . کله چې به یې چا ته، لاس په لاس کې ورکړ، ژر به یې د هغه لاس نه خوشې کاوه.
۶ . د خلکو سره یې داسې ژوند کاوه چې، هرچا به سوچ کاوه چې، د حضرت محمد (ص)، هغه نږدې کس دی.
۷ . هېچا ته به یې د سترګو تر بېخو نه کتل او مخامخ به یې ورته کتل.
۸ . هیچا ته به یې برګ، برګ نه کتل.
۹ . کله به یې چې اشاره کوله، په لاس به یې اشاره کوله نه په وریځو او سترګو.
۱۰. اوږد مهال یې، پټه خوله (سکوت) درلوده، د اړتیا پرته یې خبرې نه کوې.
۱۱. هرکله چې به یې د چا سره خبرې کوې، د هغه خبرو ته به یې تر پایه، غوږ نیوه.
۱۲. د هر چا سره چې به یې خبرې کوې، په بشپړه توګه به یې سینه ورګرځوله او مخامخ به، ورته کښناسته.

۱۳. د هر چا سره چې به کښېناست، تر څو چې هغه به د ولاړېدو اراده نه وه کړې، هغه حضرت نه ولاړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴. د خدای (ج) د یادولو پرته، په مجلس کې نه دی کېناستلی او نه ځیني ولاړ شوی دی.
۱۵. مجلس ته ننوتو په وخت کې، د مجلس په آخر او دروازې ته نږدې کېناسته، نه د مجلس په منځ کې.
۱۶. په مجلس کې به یې ځانته، ځای نه ځانګړی کاوه او منعه یې ځینې کوله.
۱۷. هیڅکله یې د خلګو په حضور کي، تکیه نه کوله.
۱۸. ډېری ناستې یې مخ پر قبلې، وې.
۱۹. که به یې په مخکې نا خوښه کار کوم چې د شرعې سره په ټکر کې نه وه پېښ شوی، ده به نادیده نیوه.
۲۰. که به د چا څخه تېروتنه صادره شوه، هغه یې نه نقلوله.
۲۱. د چا څخه یې په خبرو کې، غچ نه دی اخیستی.
۲۲. هیڅکله یې د چا سره جنګ او جګړه نه کوله.
۲۳. هیڅکله یې د چا خبرې نه پریکولې، مګر که یې لغوه او باطل حرف نه وای ویلي.
۲۴. د سوال ځواب یې، څو ځله تکرار کوو، ترڅو په ځواب کې یې اورېدونکی، شکمن نه شي.
۲۵. کله چې به یې د چا څخه ناصوابې خبرې اورېدې، نه یې ورته ویل چې « ولې پلاني داسې ویل » بلکې فرمایل یې چې « په ځینو خلکو، څه کېږي چې داسې وایي؟»
۲۶. د بې وزلو سره یې ډېره ناسته او ولاړه درلوده او ډوډۍ بَه یې هم ورسره، خوړله.
۲۷. د بنده ګانو او غلامانو بلنه یې، هم منله.
۲۸. ډالۍ یې قبولوله، که څه هم به د شیدو یوه جام و.
۲۹. تر هر څه ډېره یې صله رحمي پر ځای کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰. د خپلوانو سره یې نېکي کوله، بې له دې چې پر نورو لوړوالی (بهتري) ورکړي.
۳۱. ښه کار ته یې تحسین او تشویق فرمایل او بد کار به یې غنده او نهي کاوه.
۳۲. هغه څه چې د خلکو د دین او دنیا د اصلاح موجب کېدل، دوی ته به یې و فرمایل:
کوم څه چې حاضران یې له ما اوري غایبانو ته یې هم ورسوئ.
۳۳. هرچا چې به عذر راوړ، دهغه عذر یې مانه (منه).
۳۴.هیڅوک یې، سپک نه ګاڼه.
۳۵. هیڅکله یې چا ته ښکنځل نه دي کړي او چا ته یې په بدو نومونو نه ویل.
۳۶. هیڅوک یې د خپلو اطرافیانو او په ده پورې د تړلو کسانو یې نفرتي نه کړل.
۳۷. هیڅکله یې، د چا عیبونه، نه پلټل.
۳۸. د خلکو د شر څخه یې پرهیز کاوه، د دوی څخه نه ګوښه کېده او د ټولو سره یې چلند وه.
۳۹. هیڅکله یې د خلکو بد نه ویل او د هغوی ډېر صفت یې هم نه کاوه.
۴۰. د نورو پر بې عزتي یې صبر کاوه او د بدئ جزا یې په نیکي سره، ورکوله.
۴۱. د ناروغانو پوښتنه (عیادت) یې کاوه، که څه هم به د مدینې شریفې په لرې ځای کې وو.
۴۲. د خپلو اصحابو خبر یې اخیسته او د هغوی د حالاتو پوښتنه یې کوله.
۴۳. اصحابو ته به یې، په ښو نومونو، غږ کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴. د اصحابو سره به يې په کارونو کې، ډېرې مشورېې کوې او پر هغه به يې ټينګار، کاوه.
۴۵. د يارانو په منځ کې به کېناسته، که به کومه ستونزه راتله چا نه شو کولای چې د دوی په منځ کې پيغمبر وپېژني.
۴۶. د خپلو يارانو په منځ کې به يې، انس او الفت راوسته.
۴۷. وعدې او تړون ته، تر ټولو وفادار انسان و.
۴۸. کله چې به يې بې وسه (غريب، فقير) ته کوم شی بخښل، په خپل لاس يې ورکاوه او چا ته يې نه حواله کاوه.
۴۹. که به پر لمانځه و، او د ده مخې ته څوک راغلې وای لمونځ يې لنډ، وايه.
۵۰. که به پر لمانځه و او ماشوم به ژړل لمونځ يې لنډ، وايه.
۵۱. پر هغه کسانو ډېر ګران وو، چې خير يې نورو ته، ډېر رسېد.
۵۲. هيڅوک د ده د حضور څخه، نا اميد نه وو او فرمايل به يې: «د هغو کسانو اړتياوې (حاجتونه) را ورسوئ، څوک چې يې تر ما نه شي، را رسولای. »
۵۳. هرکله چې به چا د ده څخه د اړتيا (حاجت) خواست کاوه، که سم و، روا يې باله او که نه و، په ښو خبرو يې راضي کاوه.
۵۴. د هيڅ چا درخواست يې نه رداوه، مګر که په معصيت کې و.
۵۵. دسپين ږيرو يې ډېر عزت کاوه او پر کشرانو ډېر مهربان و.
۵۶. د ښوزلو يې، ډېر مراعات کاوه.
۵۷. د شر خوښو زړونه يې په نېکيو باندې ترلاسه کاوه او مجذوبول يې.
۵۸. په ښکاره به متبسم (پر شونډو خندان) و او په عين حال کې يې په زړه کې د الله (ج) څخه وېره ډېره، وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۹. کله چې به خوشحاله و، سترګو بانه يې يوه پر بله اېښودې او د خوشحالۍ اظهار به يې کاوه.
۶۰. د ده اکثره خندا، د تبسم وه، خندا يې غږ نه درلود.
۶۱. کله، کله به يې ټوکه کوه، اما د ټوکې او خندا په بهانه يې نا مناسب او باطل حروف، نه ويل.
۶۲. بد نوم ته يې تغيير ورکاوه او د هغه پر ځای يې ښه نوم کاراوه.
۶۳. بردباري او سړه سينه يې هم مهاله پرغصې يې وړاندېوالی کاوه.
۶۴. د شتمنۍ د هلاکت پر وخت ،غصه نه ورتله او نه هم نا ارامه کېده.
۶۵. د خدای (ج) له پاره دومره په قهر کېده، چې بل چا به نه پېژنده.
۶۶. هيڅکله يې د ځان غچ نه اخيسته، مګر په غير له هغو چې د حق حريم يې ماتوه.
۶۷. د محمد (ص) په وړاندې، تر ټولو منفورترين خوی، دروغ ويل وو.
۶۸. د خوشحالۍ او خفګان پر مهال يې د حق د يادولو پرته، بل څه پر ژبه جاري نه وو.
۶۹. هيڅکله يې، پيسې نه زيرمه کوې.
۷۰. په خوراک او پوښاک کې يې تر خپلو خدمت ګارانو زيات شی، نه درلود.
۷۱. پر خاورو کېناسته او ډوډۍ يې هم ور باندې خوړه، مګر پاکي يې، تر هر څه خوښېده.
۷۲. پر ځمکه بيدېده.
۷۳. بوټونه او کالي يې خپله، اغوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴. په خپلو لاسونو يې، شيدې څښلې او د اوبښ پښې يې، پخپله تړې.
۷۵. هر خر يا کوم حيوان چې به ورته چمتو وو، ورباندې سپرېده او فرق يې نه ور کاوه.
۷۶. هرځای ته چې به ته، هغه خپله عبا (چپنې ته ورته جامه) يې اواروله او ګټه يې ځينې اخيسته.
۷۷. د ده حضرت ډېرى جامې، سپينې وې.
۷۸. چې نوې جامه به يې جوړه کړه، مخکينۍ يې، بې وزلي ته بخښه.
۷۹. فاخري ډوله جامه يې، د جمعې د ورځې وه.
۸۰. د بوټونو او کاليو د اغوستو پر مهال يې، له ښي خوا، پيل کاوه.
۸۱. ببر او خيرن وېښتان يې، کراهت ګڼل.
۸۲. تل به خوشبو و او زيات مخارج يې دعطرونو پر رانيولو وو.
۸۳. تل به يې اودس درلود او د اوداسه پر مهال يې، مسواک واهه.
۸۴. لمونځ لکه د ده د سترګو نور و، ارامي او استراحت يې په لمانځه کې مونده.
۸۵. د هرې مياشتې پر ديارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ يې روژه نيوه.
۸۶. هيڅکله يې کوم نعمت پورې، نه خندل.
۸۷. د الله تعالى لږ نعمت يې، ډېر ګاڼه.
۸۸. هيڅکله يې غذا نه تعريفوله او نه يې بد پسې ويل.
۸۹. د غذا پر وخت چې به هر څه حاضر وو، ميل يې ورته ښکاره کاوه.
۹۰. د دسترخان پر سر يې، له خپلې خوا غذا نورو ته، ور اړوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۱. د غذا پر مهال، تر ټولو ژر حاضرېده او تر ټولو وروسته ځيني ولاړېده.
۹۲. چې وږی به نه و، د ډوډی ميل يې نه کاوه او تر مړېدو وړاندې يې د ډوډۍ څخه انصراف کاوه، يعنې پرماړه نس يې ډوډۍ، نه خوړله.
۹۳. معده يې هيڅکله دوې غذاوې هم مهاله، جمع نکړې.
۹۴. په غذا کې يې، هيڅکله تيغ (آروغ) نه دی اېستلی.
۹۵. تر خپله وسه يې، يواځې ډوډی نه خوړله.
۹۶. تر ډوډۍ خوړولو وروسته يې، لاسونه پرېمينځل او پر خپل مخ يې کشول.
۹۷. د اوبو څښلو پر مهال يې، درې ساه وې (اېندې) نيولې، په لمړي کې يې بسم الله او په آخر کې يې الحمد لله، ويله.
۹۸. تر هر ډول مستورو او حيا داره پيغلو، حياناک و.
۹۹. کله چې به کورته ننوت، درې واره يې اجازه غوښته.
۱۰۰. د کور ننوتو وختونه يې پر درېيو برخو وېشلي وو:
يوه برخه يې د الله (ج) له پاره، بله برخه يې د کورنۍ له پاره او درېيمه برخه يې د ځان او خلکو له پاره وه.

**درود شريف:**

اَللّهُمَّ صَلّ عَلیَ مُحَمَّدٍ وَّ عَلیَ الِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیتَ عَلیَ اِبرَاهِیمَ وَعَلیَ الِ اِبرَاهِیمَ اِنَّکَ حَمیدٌ مَّجِیدٌ.

**ژباړه:**

خدايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر محمد (صلی الله علیه وسلم) او د محمد (صلی الله علیه وسلم) په آل باندې درود او رحمت نازل کړه، لکه څنګه چې تا، پر ابراهیم (ع) او د ابراهیم (ع) په آل باندې رحمت نازل کړ، بې له شکه ته د ستاینې وړ او لوی یې.

اَللّٰهُمَّ بَارِک عَلیَ مُحَمَّدٍ وَّ عَلیَ الِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارکتَ عَلیَ اِبرَاهِیمَ وَعَلیَ الِ اِبرَاهِیمَ اِنَّکَ حَمیدٌ مَّجِیدٌ.

**ژباړه:**

خدایه!
برکت نازل کړه پر محمد (ص) او پر آل محمد (ص)، لکه څنګه چې تا پر ابراهیم (ع) او د ابراهیم (ع) په کورنۍ برکت نازل کړ، بې له شکه ته د ستاینې وړ ذات یې او ته لوی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځاه کیندونکی مرګ په ځاه کې وي

دوو ورونو په یوه ځای کې ژوند کاوه، هغوی په سوداګرۍ بوخت وو.

خورا ښه او د مینې ډک ژوند یې درلود.

یوه ورځ، یوه ورور د سوداګرۍ له پاره د سیمی پرېښودو ته اړ شو او خپل وروړته یې وویل:

زه غواړم د څو ورځو د پاره، د سیمې نه لرې سفر وکړم، تر بیا راتګه، زما پر ښځې به پام او د ستونزو په وخت کې به ورسره مرسته کوې.

ورور یې و ویل:

دا ته څه وایې؟

بې غمه اوسه.

هیڅ سوچ مه کوه.

هغه د خپل ورور نه مننه وکړه.

د شپې وختي بیده او سهار وختي له خوبه پاڅېد.

خپلې ښځې ته یې و ویل:

زه د څو ورځو د پاره، سفر ته ځم.

د ستونزو په وخت کې، زما ورور له تا سره مرسته کوي.

هغې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میږه یې د سهار چای، وختي وڅښنه.

لمړی یې د خپلې ښځې، بیا یې د ورور نه خدای پاماني واخیسته او پر سفر یې پیل کړ.

هغه پرسوداګریز سفر بوخت شو.

ورور به یې اخوا دېخوا ګرځېده او د خپل ورور د ښځې په سوچ کې شو.
پلانونه به یې سنجول، پای کې په بې حیایۍ او نېغه تړوګه، له هغې نه، ناروا غوښتنه وکړه.
د ورور ښځې یې د هغه غوښتنه و نه منه.

بیا یې هغې ته و ویل:

زه به تا ته، کلکه سزا درکړم.

هغې و ویل:

لاس دې خلاص!

بیا هغه و ویل:

وبه ګورو.

څه موده، تېره شوه.

هغه د سزا ورکولو سوچونه وهل.

یوه ښه سوچ یې وموند او له ځانه سره یې و ساته.

د خپل د ورور د راتګ نه خبرشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې د هغه، لارې ته ورساوه.

د روغبړ نه وروسته يې، خپل ورور ته و ويل:

عجيبه ښځه لرې؟

ته چې په سفر لاړې، څو ګړۍ لا نه وې تېرې شوې، چې هغه راغله او زما نه يې ناروا غوښتنه وکړه، ما د ستا په خاطر ډډه وکړه او د هغې خبره مې، و نه منه.
ورور يې ډېرخواشينی او په غصه شو.
کور ته چې ننوت، ښځې يې پرې پام شو، چابکه چابکه د هغه مخې ته يې ځان ورساو او هغه ته يې ښه راغلاست و وايه.
د مېړه غوسه لا ډېره شوه او هغې ته يې طلاق ورکړ.
هر څه هغې پوښتني وکړي چې، څه پېښه شوی ده؟
هغه د ځواب او سوچ نه پرته، له کوره وشړه.
ښځه د کوره و وته او په لارې روانه شوه.
هغه د يوه عابد کور خوا ته لاړه.
کورته نږدې شوه.
د کور مخې ته خادم ولاړ و.
خادم و ويل:
چېرته روانه يې؟
هغې و ويل:
غواړم عابد و وينم.
هغه و ويل:
ته دلته ودرېږه، زه به لاړ او تا ته به اجازه واخلم.
هغې و ويل:
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم کلا ته د ننه شو.
او هغې ته يې د ننوتو اجازه واخيسته.

ښځه د عابد کور ته د ننه شوه او خپله ټوله تېره شوې کيسه يې هغه ته وکړه.

بيا يې هغې ته و ويل:

زه څه کولای شم.

هغې و ويل:

که کوم کار راته پيدا او يا مې دلته وساتې؟

هغه و ويل:

زما يوه کوشنی ماشوم دی.

ته به د هغه پالنه وکړې او زه به تا ته بر سېره پر درې وخته ډوډۍ د مياشتې دوې ديناره هم درکړم.

هغې و منه او د عابد نه يې مننه وکړه.

هغې خپله دنده پيل کړه.

څو ورځې تېرې شوې.

خادم ته ښځه خوږه شوه.

بيا يې د هغې نه، ناروا کار غوښتنه وکړه.

هغې په زاريو، زاريو د هغه غوښتنه ونه منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم و ویل:

زه به تا ته ډېره بې ساري، سزا درکړم.

ځو ورځې تېرې شوې.

خادم د وخت موندلو سره سم د عابد ماشوم و واژه او پړه يې پر ښځې واچوه.

د وژنې نه يې وروسته عابد ته د ماشوم وژنې پيغام و رساوه.

عابد ښخه خپل حضور ته وبلله او هغې ته يې و ويل:

ماشوم دې ولې وژلی دی؟

هغې و ويل:

ما نه دی وژلی.

ماشوم خادم وژلی دی.

خادم و ويل:

نه!

ما نه دی وژلی.

زه خو پخوا هم دلته وم.

د دې په راتګ سره، دا کار وشو.

هغې ډېرې زارۍ وکړې، کوم ځای يې و نه نيوه.

عابد هغې ته دوې ديناره ورکړل او هغه يې له کوره وشړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه له کوره و وته او په یوې نا معلومه لار، روانه شوه.

هغه څه مخې ته لاړه او سترګې یې په یوې ډلي ولږېدي.

هغه، ډلې ته نږدې شوه، ګوري خلکو یوه کس نیولی او وهي یې.

ښځه وړاندی شوه او د خلکو نه یې وپوشتل:

دا سړي څه کړي چې تاسو راګیر کړی او وهئ یې.

خلکو و ویل:

دا سړی زمونږ پوروړی دی، مونږ ورته وایو چې، زمونږ پور را کړه.

هغه تل پلمې کوي.

ښځې و ویل:

څومره له تاسو نه، پوروړی دی؟

خلکو و ویل:

دوې دیناره.

بیا هغې دوې دیناره کسانو ته ورکړې او کس یې له وهلو خلاص کړ.

کس له ښځې نه مننه وکړه او هغه ته یې و ویل:

دا ښار د سړیتوب ښار نه دی.

زما او ستا به وروری او خورولي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه دواړه له دې ښار نه، بل ښار ته لاړ شوو.

ښځې چې د دې ښار نه ترخه خاطره درلوده، د هغه خبره یې ومنه او دواړه د یوه سیند (سین) پرلور روان شوو.

سیند ته ورسېدل،

سیند غاړې ته یوه کښتې ولاړه وه.

کس کښتۍ ته نږدې او کښتیوان سره یې خبرې پیل کړې.

هغه یې پر کښتیوان و پلوره او په بهانه یې له ښځې نه ځان پناه کړ.

کښتیوان ښځې ته و ویل:

د ورور تر راتګ پورې، راځه کښتۍ کې کښېنه!

ښځه په کښتۍ کې، کښېناسته.

کښتیوان، کښتۍ ته حرکت ورکړ.

ښځې و ویل:

صبره وکړه!

زما ورور راشي!

کښتیوان و ویل:

کوم ورور؟

هغې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې له ما سره و.

کښتيوان و ويل:

د څه شي ورور؟

هغه ته يې پر ما، خرڅه کړې يې.

هغه خپلې پيسې واخيستې او لاړ.

ښځه ډېره خواشينې شوه.

سوړ اوسېلی يې و باسه.

کښتې اوبو منځ ته لاړه.

بيا کښتيوان هغې نه د ناروا کار غوښتنه وکړه.

ښځه هک پک، پاتې شوه.

خدای نه يې وغوښتل چې هغه وژغوري.

د خدای حکم سره سم، وريځه په آسمان کې پيدا او پر وريدو يې پيل کړ.

څه ځنډ وروسته، طوفان هم پيل شو.

کښتې يې ټوټه، ټوټه او بيا ډوبه کړه.

کښتيوان يې و واژه او ښځه بې هوښه پر يوې تختې، پاتې شوه.

اوبو ورو، ورو هغه د سيند غاړې ته ورسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د ښار پاچا کوم چې د ښکار له پاره وتې و، پر ښځې يې سترګې ولګېدي.

عسکرو ته يې امر وکړ چې هغه له اوبو و باسي.

عسکرو د امر سره سم، هغه يې له اوبو و باسه او د سيند غاړې ته څېرمه، پر شګو واچوه.

هغه بې هوښه، مګر ژوندۍ وه.

هغه يې د خپل طبيب په مرسته په هوښ راوسته او د هغې يې درملنه وکړه.

هغې خپله ټوله کيسه پاچا ته وکړه.

پاچا هغې ته د واده کولو، وړانديز وکړ.

ښځې ومنه.

هغې به پاچا ته ښې مشورې ورکوې.

هغه په مشورو ورکولو کې، مشهوره شوه.

څه موده تېره شوه.

د ښار قاضی مړ شو.

پاچا د نوي قاضي ټاکولو له پاره، مشورې پيل کړې.

خلکو د پاچا وغوښتل تر څو ښځه د ښار قاضي په توګه و ټاکي.

پا چا هم هغه، د ښار قاضي په توګه، وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاکلو نه وروسته يې پا چا ته و ويل:

زه غوړام خپلو مغرېضينو ته، سزا ور کړم.

پاچا ومنه او اعلان يې وکړ تر ځوخلک راټول شي.

خلک راټول شوو.

- لمړی يې د خپل مېړه او د مېړه ورور(لېور) و غوښتل.

خپل پخوانی مېره يې خوشې او لېوره ته يې تورلګلو په هکله، اتيا درې وهلو سزا واوروله او پرهغه باندې يې حد جاری کړ.

- بيا يې عابد او خادم وغوښتل.
  عابد يې خوشې خادم يې د قاتل په توګه معرفی او قصاص حکم يې پرې جاری کړ.
- بيا يې پوروړی و غوښت او هغه يې د مفسد په توګه خلکو ته ور وپيژاند او هغه يې، بند خونې(جېل) ته ولېږه.
  ټولو ته يې سمې او مناسبې سزا ګانې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاریز

په پخوا پېر کې یوه پاچا غوښتل چې د یوې سیمې نه د کاریز ویاله (بیاله) تېره او پټې پرې خړوب کړي.

کروندګرو ته یې امر وکړ تر څو د ویالې کیندنې چارې پیل کړي.

هغوی د ویالې کیندې چارې پیل کړې.

په یوې سیمې کې د کاریز ویاله د یوې کونډې ښځې کور ته جوښت تېرېده، کومه چې کونډې کور ته یې زیان (تاوان) رساوه او هغې د کور نړېدو، سبب ګرځېده.

کونډې ښځې چې دا حال ولید، کروندګرو ته یې و ویل:

ویاله له بلې خوا تېره کړئ چې زما کور ته زیان و نه رسوي.

هغوی و ویل:

مونږ د پاچا امر پر ځای کوو، ته کولای شې پاچا ته خپل عرض وړاندې کړې.

هغې ومنه.

سهار شو.

کونډې ښځې پاچاهي دربار ته یې ځان ورساوه او خپل عرض یې پاچا ته وړاندې کړ.

پاچا کونډې ښځې ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به ایت (هیت) وټاکم او ستا ستونزه به حل شي.

هغې د پاچا نه مننه وکړه او بېرته کور ته، روانه شوه.

پا چا هم لس کسیز هیت وټاکه او له هغوی یې وغوښتل چې د کونډې کور نه لیدنه، موضوع دې په هر اړخیزه توګه وڅېړي او پایله یې له پا چا سره ګډ (شریکه) کړي.

ښځه کورته ورسېده.

سبا لس کسیز هیت سیمې ته لاړ او د هغې د کور نه یې لیدنه وکړه.

هغوی د خپل په راپور کې داسې ولیکل:

ویاله د کونډې ښځې کور ته کوم زیان نه رسوي، باید پاچا د امر سره سم دې تېره شي.

هغوی خپله پایله د پاچا سره ګډ (شریکه) کړه.

پاچا هم خوښ شو.

کروندګرو خپلو کیدنو ته دوام ورکړ.

کونډې ښځې چې کروندګر ولیدل په غصه شوه او هغوی ته یې و ویل:

کیندنه مو بې ځایه ده.

تاسو د هیت نظر وګورئ.

هغوی و ویل:

مونږ سره د لس کسیز هیت نظر شته کوم چې پاچا ټاکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې بیا د پاچاهۍ دربار ته، ځان ورساو او د پاچا سره یې وکتل.

پا چاه هغې ته و ویل:

ما ستا د ستونزې اوارۍ له پاره لس کسیز هیت و ټاکه.

هغوی سیمه له نږدې وکته او پایلې کې یې لیکلې دي.

ویاله د کونډې ښځې کور ته، کوم زیان، نه رسوي.

هغه په ژړا او فریاد شوه.

پاچاه ته یې و ویل:

صیبه!

د هغوی پریکړه زما په زیان ده.

هغوی نا سمه پریکړه، کړې ده.

ښه به دا وي چې تاسو په خپله، زما کور وګورئ.

که یې زیان رساوه، ویاله بچه کړئ او که زیان یې نه رساوه، زما کور لړنګ کړئ.

پا چا و منه، سبا سیمې ته لاړ او کور یې په خپل سترګو ولید کوم چې د ویالې په تېرولو سره، د هغې کور سل په سلو کې ورانېده.

بیا پا چا کروندګرو ته و ویل:
ویاله د کونډې ښځې کور څنګ نه لرې کړئ تر څو د هغې کور د نړېدو نه بچ شي.
ځینې وختونه، تر ډېرو نه لږ ښه او فیصلې د ټولو په ګټې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوې ورونه

په پخوا پير کي دوې ورونه وو.

د هغوی ژوند ښه نه وه، نه يې ځمکه درلوده او نه هم کوم کسب او کار.

نه يې زر درلودل او نه هم زور.

سهار وختی به غره ته، تلل.

الته به يې لرگي وهل، بيا به يې په شا كول، بازار ته به يې وړل ، خرڅول او د هغو پر پيسو به يې ځانو ته د کور اړونده خوراکي توکي او شيان اخيستل.

دوی  به هره ورځ دا کار، تر سره کاوه.

څه موده تېره شوه.

يوه ورور يې ناروغه او په کور کې پرېوت.

دوايي يې وکړه، مگر ښه نه شو.

څه موده وروسته هغه، مړ شو.

ورور يې، هغه خاورو ته وسپاره.

ورور به يې، په يوازې توگه سهار له خوا لرگي راوړل، په بازار کې به يې پلورل او د خپل مړ شوي ورور ضروريات به يې پرې پوره كول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به د ماسپښین له خوا هم غره ته، ته لرګي به یې راوړل، په بازار کې به یې پلورل د خپل کور ضروریات به یې پرې، پوره کول.

پر هغه کار ډېر شو.

څه موده تېره شوه.

هغه هم کلک ناروغه شو.

د کورنۍ غوښتنې هم ډېرې شوې وې.

هغه به سوچونه وهل، کوم چې بې ګټې وو.

بیا یې آوازه واچوه:

که چېرې یوه څوک ما ته د یوه کال نفقه را کړی، زه یې د حضرت خدر(ع) سره ور پېژنم (معرفی) کوم.

آوازه، هرې خوا خپره او خبره تر پاچا ورسېده.

پاچا هم، هغه دربار ته وغوښت.

د هغه سره یې خبرې وکړې او هغه ته یې د یوه کال نفقه ورکړه.

هغه هم د څه لنډې مودې له پاره وخت واخیست.

څه وخت تیر او موضوع د پاچا له هېره و وته.

څه موده وروسته د دربار یوه کس د پاچا سره ولیدل، هغه ته یې شیطانت او تېره شوې کیسه یې ور په یاد کړه.

پاچا هغه کس، خپل دربار ته وغوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس ډېر وارخطا اوزړه يې په ډبهارو شو.

له ځانه سره يې و ويل:

پاچا خو ما وژني.

په هره توګه، بايد لاړ شم.

توکل په خدای.

د هغه د ننوتو سره سم، يوه سپين ږيری هم ننوت.

چا به سوچ کاوه چې د پلانی وزير خپلوان به وی او بل به سوچ کاوه:

کېدای شي، پاچا راغوښتی وي.

پاچا خپل وزيران را وغوښتل او خبره يې د هغوی سره ګډ (شريکه) کړه.

هغوی د غونډې غوښتنه وکړه.

پاچا ومنه او غونډه يې وبله.

غونډه پيل شوه.

لمړی يې يوه وزير ته و ويل:

د سزا ورکولو په هکله، خپل نظر څرګند کړه!

- لمړي وزير و ويل:

بايد لوي اور بل او دا کس دې په کې واچول شي تر څو د نورو له پاره د عبرت درس، شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیري و ویل:

وزیر ریښتیا وایې دا د وزیر سره مناسبه خبره او د کس له پاره مناسبه سزا ده.

- دویم وزیر و ویل:
دا کس باید په ژوندوني له پوسته او په دښتې کې دې خوشې،
مچان او میاشې به یې و چچي او په زجر به مړ شي.

سپین ږیري و ویل:

وزیر ریښتیا وایې.

دا د وزیر سره مناسبه خبره او د کس له پاره مناسبه سزا ده.

- درېیم وزیر و ویل:
دا کس دې باید ټوټې ټوټې او له منځه لاړ شي.

سپین ږیري و ویل:

وزیر ریښتیا وایې.

دا د وزیر سره مناسبه خبره او د کس له پاره مناسبه سزا ده.

- اخر وزیر یې چې زده کړې یې کړې وې، و ویل:
پاچاه صیب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه مرسته چې تا د ده سره کړې ده، ملت د خزانې (بیت المال) نه دې کړي ،کومه چې د خلکو پورې اړه لري.

تا له خپله جبه څه نه دې ورکړي.

کېدای شي د ځان د خلاصون له پاره یې کړې وي.

هغه نه باید، و وژل شي.

سپین ږیري و ویل:

وزیر ریښتیا وایې.

دا د وزیر سره مناسبه خبره او د کس له پاره مناسبه سزا ده.

بیا پاچا مخ سپین ږیري ته واړاوه او ویې ویل:

تا د هر وزیر خبره تایید کړه، دا څنګه کېدای شې؟

لیونی یې که په حال؟

سپین ږیري و ویل:

- لمړی وزیر دې د آهنګر زوی ده، هغه بې له اوره کوم بل څه نه دي لیدلي، هره سړه اوسپنه به یې په اور تودوه او هغه ته به یې د ښتک وهلو سره شکل ورکاوه.

- دوېیم وزیر دې د موچې زوی دی، هغه ټول عمر د پوستکو (څرمن) سره تېر شوی دی، هغه به ژوي له پوسته کول او له څرمن نه به یې بوټان، پڼې او نور وسایل جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دریم وزیر دې د قصاب زوی دی، هغه بې له حلالولو او ټوټې، ټوټې کولو بل کوم شی نه و کړي او نه پرې پوهېږي.

- اخر وزیر دې د سړي زوی، پوی دی، زده کړې يې کړې، ښه خبره يې وکړه او زما هم د تایید وړده.

پا چا وزیرانو ته مخ واړو او غوښتل يې د هغوی نظر هم ولري.

په دې وخت کې، سپین ږیری سړی تری تم شو.

ټول هک پک شوو.

کس و ویل:

هغه حضرت خدر(ع) و.

زما وعده سمه وه.

پاچا ه چې ډېر حیران شوی و، د هغه نه يې ببننه و غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اصلیت پېژندنه

په پخوا وختونو کې یوه پاچا ژوند کاوه.

هغه ډېر زیرک او هوښیار وزیر درلود.

یوه ورځ هغه خپل وزیر را وغوښت او هغه ته یې یوه اس وښود، د اس یې ډېر صفتونه (توصیفونه) وکړل.

بیا یې وزیر ته و ویل:

ته په کې څه وایې؟

هغه و ویل:

اس اصلی نه دی.

پا چا امر وکړ تر څو اصلي خاوند و مومي او د موضوع څرنګوالی د هغه نه پوښتنه وکړي.

کس یې و موند او دهغه نه یې پوښتنه وکړه.

هغه په ځواب کې و ویل:

کوم وخت چې دا اس وزیږېد، موریې ناروغه او مړه شوه.

مونږ اس غوا ته واچوه او اس د غوا شیدې خوړلې او لوی شوی دی.

د خبرنې نه وروسته پاچا وزیر و غوښت او له هغه یې و پوښتل:

ته څه پوی شوې چې اس اصلي نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر و ویل:

اصلی اس واښه په خوله کې نیسي بیا سر لوړوی او واښه خوري .

مګر دا د غوا په شان په اخور کې سر ټیټ اچوي او واښه خوري.

پا چاه خوشحاله شو او خپل وزیر ته یې دېرش – څلوېښت مېږۍ او وزې انعام ورکړې.

څه موده تېره شوه.

هغه بیا خپل وزیر وغوښت او له هغه یې و پوښتل:

زما په ښځې کې څه وایې؟

هغه و ویل:

دا به، بې ادبي وي چې ستا د ښځې په اړه څه و وایم.

پا چا و ویل:

زما له خوا اجازه ده.

وزیر و ویل:

ستا ښځه هم شا زادګۍ (اصلي) نه ده.

پا چا بیا خپلې څېړنې د خواښې نه پیل کړې.

هغې و ویل:

مونږ یوه  کوشنۍ لور درلوده.

کومه مو چې د ستا په نوم کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ناروغه او بیا مړه شوه.

مونږ د پاچا سره مشوره وکړه چې د مینځې لور واخلو او غټه یې کړو.

تر څو په خبرو کې پړ(ملامت) نه شوو.

د ځیړنې نه وروسته پاچا وزیر و غوښت او له هغه یې و پوښتل:

ته څه پوی شوې چې هغه شازادگی نه ده؟

وزیر و ویل:

شازادگې په وړو، وړو خبرو پسې نه گرځي.

مگر ستا ښځه کله مینځې سره شخړه کوي او کله له دمې سره.

پا چا خوشحاله شوه او هغه ته یې دېرش – څلوېښت مېږې او وزې انعام ورکړې.

بیا یې و ویل:

زما په هکله څه وایې؟

هغه و ویل:

دا ستونزمنه ده چې ستا په هکله څه و وایم.

پاچا و ویل:

ته باید و وایې چې زه شهزاده یم او که نه.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته باید ما ته لیک راکړې چې د ریښتیا په ویلو سره، ما نه مړ کوې.

پاچا ومنه او هغه ته یې لیک ورکړ.

بیا یې و ویل:

اوس و وایه چې زه شهزاده یم او که نه؟

هغه و ویل:

نه!

ته شهزاده (اصلي) نه یې.

هغه خپلې څېړنې، خپلې مور نه پیل کړې.

هغې و ویل:

ډېر وخت زمونږ اولاد نه کېده او مونږ هم حیران وو تر څو پاچا د مرګ نه وروسته، میراث چا ته پرېږدو؟

څه وخت تېر شو.

مونږ په دښتې کې، روان وو.

سترګې مو پر څو ماشومانو ولګېدې کوم چې د شپنو زامن وو.

مونږ یوه ښکلی ماشوم یانې ته خوښ کړې او د ډېرو پیسو په مقابل کې مو واخیستې.

د څېړولو نه وروسته پاچا خپل وزیر و غوښت او هغه ته یې و ویل:

ته څه پوی شوې چې زه شهزاده (اصلي) نه یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر و ویل:

د پاچا په دربار کې سره زر، سپین زر او نور جواهرات خورا ډېر وي.

مګر تا د هغوی پر ځای، ما ته مېږې او وزې انعام راکړې.

دا په دې مانا چې ته د شپون زوی او اصلی شهزاده نه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښوونکی او زده کونکي

یوه ورځ ښوونکي له زده کونکو و پوښتل:

زړور څوک دی؟

- یوه زده کونکي ګوته پورته کړه او ویې ویل:
زړور هغه څوک دی چې یوازې پر دښمن حمله وکړی او د هیچا، و نه ډار شي.
- بل زده کونکي و ویل:
زړور هغه څو ک دی چې په ځنګله کې شپه تېره او و نه ډار شي.

- بل زده کونکي ګوته پورته کړه او ویې ویل:

زړور هغه څو ک دی چې له زمري او پړانګه و نه ډارشي.

- بل زده کونکي و ویل:
زړور هغه څوک دی چې سیند کې لامبو وهې له یوې خوا نه بلې خوا ته، تېر شي او ونه ډار شي.
- بل زده کونکي و ویل:
زړور هغه څوک دی چې په طوفان کې روان وي باران ، برلی پرې و وربېږی او و نه ډار شي.

هر زده کونکي به څه ویل او ښوونکي به ور ته سر خوزاوه.

په دې وخت کې یوه بل زده کونکي ګوته پورته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکي و ويل:

ته څه وايې؟

- هغه و ويل:
زړور هغه څوک دی چې د خپل مور او پلار لاسونه مچ (مچو) کړي او و نه ډار شي.

په دې وخت کې ښو ونکی په ژړا شو.

زده کونکي د ښوونکي نه و پوښتل:

ما خو به کومه ورانه (بده) خبره نه وي کړې؟

ښو ونکي و ويل:

نه!

زه داسې زړور نه وم چې خپل پلار او مور لاسونه مې مچ (مچو) کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آفت (اپت) او فتنه

په پخوا وختونو کې یوه کس ژوند کاوه چې نوم یې آفت (آپت) و.

هغه د یوې نجلۍ سره واده وکړ.

هغه د ښځې نوم فتنه و.

څه وخت وروسته هغوی د زوی خاوندان شوو.

پر هغه یې نوم فساد کېښود.

زوی یې لا نه و لوی شوی، چې مړ شو.

خلک به د هغه فاتحې او غم شریکۍ له پاره، هغوی کور ته راتلل.

هغوی به ویل:

تر څو چې آفت (اپت) او فتنه ژوندي وي، ډېر فسادونه به وزېږوي.

تاسو سوچ مه کوئ او مه پرېشانه کېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انګریز

په پخوا وختونو کې یوه انګریز د افغانستان یوه ولایت ته، تاریخي آثارو لیدو د پاره راغلی و.

هغه د خپل ژباړونکي سره په ښار کې چکر واهه.

د سړک تر غاړې یوه کس ناست او د انګریز نه یې د خدای په نامه خیرات و غوښت.

انګریز ورته پام نه شو او خپله لاره یې ونیوه.

څه وخت وروسته بېرته خپل هېواد ته لاړ.

پر زړه یې وګرځېد چې یوه کس دهغه نه څه وغوښتل.

خپل ژباړونکی یې و غوښت تر څو وپوښتي چې، هغه څه غوښتل.

ژباړونکی یې راغی او هغه ته یې و ویل:

څه مو ویل؟

انګریز و ویل:

هو!

په افغانستان کې یوه کس له ما، څه وغوښتل.

کولای شې، و وایې چې، هغه څه ویل؟

ژباړونکي و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خدای په نامه مرسته وغوښته.

انګریز ډېر خفه شو او لس لکه افغانۍ یې هغه ولایت والی ته ولېږې تر څو هغه سړک غاړې بینوا ته یې ورکړي.

والی پیسې نیمې کړې.

پنځه لکه یې په خپل جب کې د ننه کړې.

بیا یې ښاروال وغوښت.

هغه ته یې و ویل:

یوه انګریز د سړک غاړې بینوا ته پنځه لکه افغانۍ رالېږلي دي.

دا واخله او هغه ته یې ورکړه.

ښاروال پیسې واخیستې.

درې لکه یې په جب کې کېښودې.

دوې لکه نورې یې د سیمې (ناحې) ښاروالۍ ریس ته ورکړې.

هغه ته یې و ویل:

یوه انګریز د سړک غاړې بینوا ته دوې لکه افغانۍ رالېږلي دي.

دا واخله او هغه ته یې ورکړه.

هغه یوه نیم لک یې په جب کې کېښودې.

بیا یې د سیمې (ناحې) مدیر ته و ویل:

یوه انګریز د سړک غاړې بینوا ته پنځوس زره افغانۍ رالېږلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واخله او هغه ته يې ورکړه.

هغه پيسې واخيستې.

څلوېښت زره يې په جب کې کېښودې.

بيا يې د سيمې (ناحې) مامور و غوښت.

هغه ته يې و ويل:

يوه انګريز د سړک غاړې بينوا ته لس زره افغانۍ راليږلي دي.

دا واخله او هغه ته يې ورکړه.

مامور هم نهه زره افغانۍ په جب کې کېښودې.

او له ځانه سره يې و ويل:

هسې هغه بينوا او د ورځې سل، يونيم سل افغانۍ ټولوي.

د هغه د پاره، زر افغانۍ خورا ډېرې دي.

هغه له ودانۍ نه و وت او بينوا يې وموند.

بيا يې هغه ته زر افغانۍ ورکړې.

بينوا هم مامور ته دعا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سلطان محمود غزنوی د وخت کیسه

د هغه په وخت کې یوې ځوانې او ښایسته جلۍ ژوند کاوه، هغې به د هر کس وړاندیز نه ما نه او شرط یې دا وه چې کس باید یوه کسب یاد ولري.

یوه ورځ پاچا د یوه ځای نه تېرېده.

ویې لیدل چې، څه خلک ناست او څه اوبي.

پاچا هغوی ته نږدې شو او ویې پوښتل:

څه اوبئ؟

هغوی و ویل:

مونږ. پوزي اوبو.

هغه و ویل:

کولای شئ، ما ته یې هم زده کړئ؟

هغوی و ویل:

هو!

ته کښېنه او وګوره!

ډېر اسانه کار دی.

پا چا د هغوی تر څنګ کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوې ګړۍ کې يې پوزی اوبدل، زده کړل.

بيا روان شو.

پر سبا يې د هغې انجلۍ نه د واده غوښتنه وکړه.

هغې ترې پوښتنه وکړه.

څه کسب دې ياد دی؟

هغه و ويل:

پوزي اوبدل مې ياد دي.

هغې ومنه او د پاچا سره يې واده وکړ.

څه موده تېره شوه.

پا چا وغوښتل ګزمې کنټرول کړي.

پاچا د ماڼۍ نه د باندې او په دښتو کې روان شو.

هغه د انسان خورو په کلا برابر شو.

انسان خورو پيره دارانو هغه ولید، په چالاکۍ سره يې ونيو.

بيا يې کلک و تاړه او کلا ته يې د ننه کړ.

وروسته يې د تل پوړ ته (تهکوۍ) د ننه کړ.

التنه ډول، ډول انسانان زوړند، غوښې ټوټې، ټوټې او څه خلک انسانانو د غوښو په خوړو، لګيا وو.

پاچا ډېر وارخطا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:

ما مه وژنئ!

زه تاسو ته، هره ورځ کته رسوم.

انسان خورو و ویل:

څه ګټه رسوی شې؟

پا چا و ویل:

زه په پوزې اوبدلو کې ډېر تکړه یم.

زه به پوزي و وبم، تاسو به یې په بازار کې و پلورئ او پیسې به، تر لاسه کړئ.

هغوي ومنه.

بیا پاچا د هغوی نه وغوښتل تر څو د پوزي اوبدلو مواد، ورته راوړي.

هغوی پا چا ته مواد راوړل او هغه به پوزي اوبدل.

انسان خورو به هغه پوزي بازار ته، وړل او پلورل.

بیا یې د هغوی نه رنګونه وغوښتل.

انسان خوارو و پوښتل:

پر رنګو څه کوې؟

پا چا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوزي پرې رنګوم او رنګ کړي پوزي په بازار کې ښه خرڅېږي.

هغوی خوشحاله شوو.

بیا یې پاچا ته رنګونه راوړل.

پاچا به پوزي اوبدل، بیا به یې رنګول.

انسان خوارو به هغه په لوړې بې، پلورل.

څه موده تېره شوه.

بیا پاچا په سوچ کولو پیل کړ.

یوه ښه چل (چم) یې و موند.

یوه ښکلی پوزی یې و اوبده او هغه یې ښکلی رنګ کړ.

په رنګ یې پوزي کې د خپلې ستونزې ولیکې.

بیا یې پوزی انسان خورو ته په لاس ورکړ او هغوی ته یې و ویل:

دا پوزی پلاني (فلاني) وزیر ته یوسه هغه یې په لوړه بیه اخلي.

انسان خواره ډېر خوشحاله شوو.

پوزی یې واخیست او پا چا دربار ته یې ورساوه.

وزیر یې و موند او هغه ته یې و ویل:

زمونږ پوزي اوبدنکي دا پوزی په ډېر مهارت سره اوبدلی، رنګ کړی او تا ته یې لیږلی تر څو په ښې بیه یې و پېرې.

وزیر هم ډېر زیرک سړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پوزي په رنګولو راز باندې پوی شو.

د پاچا لیکنه یې ولوسته.

او پوزی یې د هغوی نه، په لوړه بیه واخیست.

بیا یې هغوی ته و ویل:

تاسو نور تکلیف مه باسئ.

زه څه کسان تاسو سره الته لیږم چې هره ورځ له تاسو نه پوزي راوړي او ښې پیسې درکړي.

هغوی و منه او ډېر خوشحاله شوو.

وزیر یوه کوماندان (قوماندان) سره د څو عسکرو سره ولیګل.

هغوی الته ورسېدل.

د انسان خوارو پر کور یې یرغل کړ.

پاچا یې آزاد کړ.

څه انسان خواره یې و وژل.

څه یې تېپیان او نور یې له ځانه سره دربار ته یوړل.

هغوی یې هم د خلکو په مخ کې په دار و زړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بلخ په پاچاهی کې

پخوا پېر په بلخ کې یوه لویه او مشهوره پاچاهي وه.

په پاچاهۍ کې ډېرو غلامانو او مینځو هم ژوند کوو.

ودانۍ او انګړونه، خورا ډېر وو.

یوه ورځ د یوې مینځې او مېرې تر منځ اختلاف پیدا شو.

مینځه که اخوا تله مېرې ته به یې ډب ورکاوه او که دېخوا تله، مېرې ته به یې ډب ورکاوه.

دا کار به هره ورځ او څو واره تر سره کېده.

مېرې، مینځې ته څه نه ویل او په زړه کې به یې اچوه.

دا کړنه یوې بیزوګۍ ولیده او خپل پاچا (مشر) ته یې ولېږدوه (انتقال کړه).

د بیزوګانو پاچا، ټولې بیزوګانې وغوښتې او د بیزوګۍ کیسه یې هغوی ته بیان کړه.

بیا یې و ویل:

حالات وران او راپور خطرناکه دی، ښه به دا وي چې له دې سیمې نه کډه شوو.

بیزو ګانو ته د خپل پاچا خبره، خوند ور نه کړ.

چا یوه څه او بل، بل څه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې بيزو و ويل:

دا کومه ستونزه نه ده.

ميږه به څه وي او تاوان به يې څه وي.

ښه به دا وي چې خپل ژوند، په عادي توګه مخ ته يوسوو.

د بيزوګانو مشر و ويل:

ما خپله غاړه خلاصه کړه، نور ستاسو خپل کار دی.

څه وخت تېر شو.

يوه ورځ مينځې په لاس کې اور نيولی و او غوښتل يې تناره خونې ته يې يوسي.

په دې وخت کې د ميږې ورته پام شو او له ځانه سره يې و ويل:

دا ډېر ښه وخت دی.

زه به ستا خوښه شم.

د مينځې څټ(شا) ته ورو، ورو روانه او تناره نږدې د لرګو او واښو زېرمې ته نږدې يې مينځه د څټ (شا) خوا نه په درېغه و وهله.

مينځه پر ځمکې و غورځېده او اور واښو او لرګيو زېرمې ته و لوېد او اور يې واخيست.

په لږ ځنډ کې اور ټولې پاچاهۍ ته خپور او خلکو د ځان ژغورنې له پاره هرې خوا، خواره واره شوو.

څه مړه او ډېر کسان په کې ټپيان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پا چا د درملنې له پاره طبیبان (ډاکټران) ټول (غونډ) او د هغو نه یې د علاج په هکله، د مرستې غوښتنه وکړه.

هغوي په ګډه و ویل:

ناروغان سوځېدلي او خورا ډېر دي.

د علاج او دوايی له پاره یې یواځې یوه لار شتون لري.

پاچا وپوښتل:

کومه لار؟

هغوی و ویل:

د علاج له پاره بیزوګانو پوستکو ته، اړتیا شته.

پاچا خپل سر لښکر و غوښت او هغه ته یې امر وکړ تر څو شاوخوا غرونه او غونډۍ کلا بندي، بیزوګانې ونیسي او پوستکي یې دربار ته راوړي تر څو طبیبان د سوزېدلو کسانو علاج پرې وکړي.

لښکر روان او سیمې کلابندې شوې.

خبره د بیزوګانو پاچا ته ورسېده.

په دې وخت کې، ډیرې نورې بیزوګانې هم پا چا خوا ته ورسېدې.

هغه و ویل:

ما خو پخوا ویلي و چې خبره ورانه یا خطرناکه ده.

تاسو، و نه منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا بیزوګانو و ویل:

اوس به څه چل وکړو.

د بیزوګانو پاچا و ویل:

اوس هر څوک دې، خپل سر وباسي.

بیا ټولو په منډو پیل کړ.

ډېری بیزوګانې ونیول شوې او پوستکي یې ترې و وېستل شوو.

د علاج له پاره دربار ته ولېږدول شوو.

الته طبیبانو پرې درملنه پیل کړه.

**پایله:**

اختلاف، اختلاف دی باید ورته په لږ نظر و نه کتل شي.

د اختلاف پیلې ستونزې را منځته کوي.

**پای**

